مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۱۹/۰۸/۲۷

# د اروابناد محمد اکبر ایازي پر مړینه

زمانې! نه دي دربړي دښمني
ستړی نه سوې شین اسمانه! په مرګي

نه دي رحم پر زاړه نه پر واړه سته
نه زړه سوی کوې د چا پر ښه ځواني

نړوې ئې، سوځوې ئې، ورانوې ئې
ښخوې ئې په تلوار په بې رحمي

نن دي واخیستله بیا داسي ککره
چي پرته باندي پګړی وه افغاني

دروند ئې خوی، دروند ئې وقار، درانه کړه وړه ئې
دروند سلوک ئې موروثه خانداني

د پښتو په چوپړ ستړی لالهانده
د افغان خدمت تې وقف وه هستي

د وطن د بدو ورځو احوالونه
رسوّله ئې دنیا ته سمدستي

له نامه سرې اشنا ټول وطنوال ول
وه مشهوره ئې خپره مطبوعاتي

خو افسوس د ژوندانه شپې ئې پوره سوې
اوږده رنځ مات کړ اکبر ایازي

یکشنبه، میاشت سنبله، نېټه دریمه
وو کال زر درې سل اته نوي شمسي

روح ئې کوچ سو له نابودي دنیاګیه
نوم ئې پاته سو همېش جاوداني

خدایه! ورکړې په عقبا کي جنتونه
پر دنیا ئې سو، هرګوره ځای خالي

آشاوا ـ کاناډا
۲۶ مه د اګست ۲۰۱۹ع



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ